هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسنّت تقریباً 20 کاله مخکښینیے بیان

# د زیات عمر موندلو نُسخه






شیخ طریقت امیر اهل سنت بانی دعوت اسلامی حضرت علامه مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطار قادري رضوي** دامت برکاتہم العالیہ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د ډیر عمر موندلو نُسخه (1)

د عطّار دُعا: اے کریم ربه! څوک چې دا رساله " د ډیر عمر موندلو نُسخه " ولولي یا واوري هغهٔ ته د ایمان او عافیت والا او د نیکو نه ډک ژوند ورعطا کړې او هغه سره د مور او پلار او خاندانه بے حسابه اوبخښې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د دُرُود شریف فضیلت

د الله پاک د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پهٔ ما باندې پهٔ کثرت سره دُرُودِ پاک لولئ بے شکه ستاسو پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره مغفرت (بخښنه) ده- (جامع صغیر، ص87، حدیث:1406)

دُکھوں نے تم کو جو گھیرا ہے تو دُرود پڑھو
جو حاضری کی تمنا ہے تو دُرود پڑھو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

---

[1] ... پهٔ 19 ربیع الاول کال 1426 هجری، 28 اپریل کال 2005 پهٔ عالمي مدني مرکز فیضان مدینه کراچی کښې شوے د امیر اهل سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بیان

# د ډیر عمر موندلو نُسخه

د حضرت سَیِّدُنا داؤد عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ خدمت کښې یو ښکلے د وادهٔ ځلمے د زیارت د پاره حاضر شو، ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام کوم چې هلته موجود وو پوښتنه اوکړه: دا ځلمے څوک دے؟ وه یې فرمائیل: د دهٔ هم نن وادهٔ شوے دے، زما سره ډیر محبت کوي د دې وجې نه زما سره د ملاقات کولو نه بغیر د خپلې ناوې خوا له تلل یې مناسب وه نهٔ ګڼل لهذا د ملاقات د پاره راغلے دے، ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام ووئیل: اے داؤده! د دې وادهٔ د ځلمي عمر صرف 6 ورځې پاتې دے! پهٔ دې اوریدو حضرت سَیِّدُنا داؤد عَلَیْہِ السَّلَام غمژن شو، د دې واقعې 7 میاشتې تیرې شوې خو هٰغه ځلمے وفات نهٔ شو، هٰغه وخت ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام راغلو نو حضرت سَیِّدُنا داؤد عَلَیْہِ السَّلَام وفرمائیل: اے ملک المَوته! هٰغه ځلمے اوسه پورې ژوندے دے! ملک المَوت عَلَیْہِ السَّلَام پهٔ جواب کښې ووئیل: ما چې کله 6 ورځې پس د هغهٔ رُوح قبض کول غوښتل نو الله پاک اِرشاد وفرمائیلو: اے ملک المَوته! زما بنده پریږده ځکه چې کله دے د (حضرت) داؤد (عَلَیْہِ السَّلَام) د خوا نه بهر راوتلو او ده یو بے وسه فقیر ولیدو نو هغهٔ له یې خپل زکوٰة ورکړو، هٰغه محتاجه خوشحاله شو او دهٔ ته یې د خیر سره د ډیر عمر او پهٔ جَنَّت کښې د (حضرت) داؤد (عَلَیْہِ السَّلَام) د ګاؤنډي جوړیدو دُعا اوکړه، ما قبوله کړه او د هٰغه ځلمي د پاره مې هٰغه شپږ ورځې 60 کاله ولیکلې او نور 10 کاله مې زیات کړل او د هغهٔ د پاره مې پهٔ جَنّت کښې د (حضرت) داؤد (عَلَیْہِ السَّلَام)

ګاؤنډ هم ولیکلو، لهذاتهٔ د (70 کالو) مودې پوره کیدو نه مخکښې د دهٔ رُوح مهٔ قبض کوه- (قرۃالعیون مع الروض الفائق، ص398) د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د دې رحمت نه د ډکې واقعې نه مونږ ته بے شمیره مدني ګلونه میلاؤ شول ❁ د بزرګانو زیارت ډیره د سعادت خبره ده ❁ مخکښیني خلق به د بزرګانو د زیارت د پاره تلل لکه ښنګه چې هٰغه د وادهٔ ځلمے د حضرت داؤد عَلَیۡہِ السَّلَام دربار ته حاضر شو ❁ د صدقې او خیرات سره عمر زیاتیږي ❁ چا له چې خیرات ورکړے شي که هغه د زړهٔ نه دُعا اوکړي نو د هغهٔ دُعا قبلیږي ❁ د نورو د خُلې نه وتلې دُعا زمونږ پهٔ حق کښې قبلیږي، پهٔ دې باره کښې د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د والد صاحب پهٔ کتاب " اَحسَنُ الوِعَاء لِاٰدَابِ الدُّعا " کښې دي: پهٔ هٰغه ژبه باندې دُعا کوه پهٔ کومه باندې چې تا ګناه نهٔ وي کړې یعني پهٔ بل چا باندې دُعا کوه نو قبلیږي به- (فضائل دعا، ص111 ملخصاً) ❁ دا هم معلومه شوه چې څوک پهٔ غَیبَت (یعني پهٔ تنهایی) کښې دُعا کوي هٰغه دُعا قبلیږي لکه ښنګه چې پهٔ " اَحسَنُ الوِعَاء لِاٰدَابِ الدُّعا " کښې دي: بَل که چرې پټه (یعني پشي شا) دُعا اوکړي نو هغه هم قبلیږي-

(فضائل دعا، ص 220 ملتقطاً)

دلته پهٔ نورو باندې د دُعا کولو انداز څهٔ داسې دے چې د څو پورې نوم واخستے شي او د ټولو پهٔ مخکښې دُعا اونکړے شي نو د دُعا خواست کوونکے مطمئين کيږي نهٔ بلکې بعضې وخت خفه هم شي لکه څنګه چې يو ځل يو اِسلامي ورور د نوم اخستو سره د دُعا نهٔ کولو پهٔ وجه زما (يعنې د امير اهلسنت) نه دومره خفه شو چې د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډک دِيني ماحول يـې پريښودو- داسې وشول چې هغوئي د خپلې ناروغه لور د پاره د دُعا کولو پهٔ غرض ما له چيټئ راکړه خو ما د هٰغې ماشومې د صحت د پاره د ټولو پهٔ مخکښې دُعا اونکړه، کله چې زهٔ د هٰغه اِسلامي ورور د پخلا کولو د پاره د هغوئي کور ته لاړم نو هغوئي ووئيل: زما لور ډيره بيماره وه او ما تاسو ته د دُعا د پاره چيټئ درکړې وه خو تاسو دُعا اونکړه نو زما زړهٔ مات شو، ما د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: آيا پهٔ سپيکر باندې د ټولو پهٔ مخکښې نوم اخستل او دُعا کول ضروري دي؟ آيا داسې نهٔ شو کيدے شي ما چيټئ لوستلې وي او ستاسو د لور د پاره مې پټه دُعا کړې وي لکه څنګه چې زما عادت دے چې څوک ما ته د دُعا د پاره چيټئ راکړي يا راته زباني ووائي نو زهٔ پهٔ پټه دُعا کووم ځکه چې د مسلمان د پاره د هغهٔ پهٔ غير موجودګئ کښې کومه دُعا اوکړے شي نو هغه زر قبليږي، لهذا که تاسو چرته چا له د دُعا کولو د پاره چيټئ ورکړئ يا ورته پهٔ زباني توګه د دُعا د پاره ووايئ او هغوئي ستاسو پهٔ مخکښې دُعا اونکړي نو د هغهٔ پهٔ باره کښې داسې سوچونه مهٔ کوئ چې هغه به بالکل دُعا نهٔ وي کړي-

یاد ساتئ! که چرې تاسو چا ته د دُعا کولو د پاره چیټئ ورکړه او هغه دُعا اونکړه نو هغه نهٔ ګنهګاربږي ځکه چې چا له پهٔ چیټئ ورکولو پهٔ هغهٔ باندې دُعا کول نهٔ واجب کیږي البته که هغه دُعا اوکړي نو د هغهٔ به اِحسان وي- پهٔ دې باندې داسې ځان پوهه کړئ چې چا ما ته د دُعا د پاره ووئیل نو اوس که زهٔ د هغهٔ د پاره قصداً عمداً یا پهٔ هیره دُعا اونکړم نو پهٔ شرعي توګه به زهٔ ګنهګار نهٔ یم البته که دُعا اوکړم نو زما د پاره به پهٔ اخرت کښې فائده وي چې دُعا هم یو عبادت بلکې د عبادت مغز دے لکه څنګه چې پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: " اَلدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ یعنې دُعا د عبادت مغز دے-" (ترمذی، 243/5، حدیث: 3382)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که څوک درته د دُعا د پاره ووائي نو دُعا کوئ- بعضې و اِسلامي وروڼو ته چې د دُعا د پاره ووئیلے شي نو جواب میلاؤیږي: مونږ د دې قابل چرته یو چې دُعا اوکړو ځکه چې مونږ خو ګنهګاران یو، حالانکې پهٔ یو روایت کښې دي: پهٔ هٰغه خُله باندې دُعا اوکړه پهٔ کومې چې تا ګناه نهٔ وي کړې- (یعنې بل څوک دې ستاسو د پاره دُعا اوکړي) (مثنوی مولوی معنوی، دفتر سوم، 35/3) (فضائل دعا، ص111) وګورئ چې اِنسان پهٔ خپله خُله باندې **مَعَاذَ اللّٰہ!** غیبت، چغلي، دروغ، کنځلې، زړهٔ ازاري وغیره ډېر ګناهونه کوي خو د بل چا خُله د هغهٔ پهٔ حق کښې پاکه وي ځکه چې هغه د بل چا پهٔ خُله باندې ګناه نهٔ وي کړې لهٰذا چې کله پهٔ هٰغه پاکه خُله د هغهٔ پهٔ حق کښې دُعا اوکړے شي نو زر قبلیږي-

کوم خلق چې وائي چې مونږ د دې چرته قابل يو چې د نورو د پاره دُعا اوکړو ځکه چې مونږ ګنهګاران يو د داسې خلقو د پاره عرض دے چې د ملاقات کولو په وخت مونږ يو بل ته سلام کوو او سلام هم يوه دُعا ده- داسې په نـمونځ کښې د سلام ګرځولو په وخت " اَلسَّلامُ عَليڪم وَرَحْمَةُ اللّٰهِ يعنې په تا باندې دې سلامتيا او د الله رحمت وي-" وئيلے کيږي کومه چې دُعا ده- مُستَحَب دا دي چې نـمونځ کوونڪے چې کله ښي اړخ ته سلام وګرځوي نو د ښي اړخ نـمونځ کوونڪو او فرښتو او کله چې ګڅ اړخ ته سلام وګرځوي نو د ګڅ اړخ نـمونځ کوونڪو او فرښتو ته د سلام کولو نيت اوکړي- غور اوکړئ! کله چې مونږ د سلام ګرځولو په وخت فرښتو ته د سلام کولو نيت اوکړو او د هغوئي د پاره د سلامتيا دُعا اوکړو حالانڪې فرښتے معصومه دي نو بيا مونږ د عامو مسلمانانو د پاره دُعا ولې نشو کولے؟

## د الله پاک په لار کښې د مال ورکولو سره عمر زياتيږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د بيان په شروع کښې واوريدل چې د حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام د زيارت د پاره راغلي د وادۀ ځلمي چې کله په واپسی کښې يو فقير له خپل زکوٰة ورکړو او د هغۀ زړۀ يـې خوشحاله کړو نو هغۀ ورته په خير سره د ډېر عمر او په جَنَّت کښې د حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام د ګاؤنډي جوړيدو دُعا اوکړه- الله پاک د فقير دُعا قبوله کړه او داسې چې د

وادهٔ د ځلمي عمر بالكل ختميدونكے وو او د هغهٔ د خوشحالو صرف شپږ ورځې پاتې وې د هغهٔ عمر 70 كاله زيات كړے شو او نور دا چې پهٔ اخرت كښې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ګاؤنډ هم ورعطا كړے شو-

د دې نه معلومه شوه چې د الله پاک پهٔ لار كښې د مال وركولو سره عمر زياتيږي، كه د يو غريب زړهٔ خوشحاله كړے شي او هغه دُعا اوكړي نو د هغهٔ دُعا قبليږي- دا هم معلومه شوه چې كه پهٔ ادب سره د چا بزرګ زيات اوكړے شي نو هغوئي خوشحاليږي لكه څنګه چې سَيِّدُنا داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د هغه وادهٔ د ځلمي نه خوشحاله شوے وو ځكه خو د هغه د شپږو ورځو پهٔ ژوند پاتې كيدو باندې غمژن شوے وو- دا هم معلومه شوه چې د ښو خلقو سره محبت، د هغوئي سره نسبت او د هغوئي صحبت ضرور رنګ راوړي او د دُنيا او د اخرت فيضونه او بركتونه وركوي، لكه څنګه چې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام سره د محبت كوونكي د وادهٔ د ځلمي د هغوئي بركت نصيب شو- پهٔ قرآنِ پاک كښې هم د ښو خلقو د صحبت اِختيارولو حكم راكړے شوے دے، پهٔ 11 سيپاره، د سورهٔ توبه پهٔ آيت نمبر 119 كښې اِرشاد دے: ﴿يَاۤ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ كُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ۝۱۱۹﴾ [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د الله نه ويريږئ او د رښتينو سره شئ-

ظاهره ده چې دلته د رښتينو نه مُراد اهلُ الله يعنې نيكان خلق دي كوم چې د الله پاک پهٔ دربار كښې مقبول دي- پهٔ حديثِ پاک كښې دي:

” اَلْمَرءُ مَعَ مَن اَحَبَّ“ يعنې اِنسان چې د چا سره محبت کوي (د قيامت په ورځ به) د هغهٔ سره وي- (بخاری، 4/147، حدیث:6169)

## د ښو خلقو ښه تحريک

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دعوتِ اِسلامي د ښو خلقو يو ښهٔ تنظيم دے او څوک چې دې ښهٔ تنظيم ته راشي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ېخپله هم ښهٔ جوړېږي او نور هم ښهٔ جوړوي- افسوس چې څوک د دې دِيني تنظيم ته د راتللو نه پس واپس لاړ شي بعضې وخت هغه د نيکو نه محرومه کيږي، مثلاً په نـمونځونو کښې سستي شروع کړي، په سُنَّتو باندې د عمل کولو په معامله کښې هم د سستۍ ښکار کيږي، د هغهٔ د سر نه عمامه شريف کوزه شي او مَعَاذَالله! د مخ نه يـې ږيره هم ورکه شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت درس ورکوي او د هغوئي د کرم جولۍ ته راوستل کوي- ياد ساتئ چې که د دعوتِ اِسلامي د هرې سطح ذمه دار نه تاسو خفه شۍ خو دا ښهٔ تحريک په يو حالت کښې هم مهٔ پرېږدئ، بس خپل دا ذِهن جوړ کړئ چې ” دعوتِ اِسلامي زما تنظيم دے د دُنيا يو طاقت هم په ما دا ښکلے تنظيم نشي پرېښودے-“

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنيا کښې د حق خلقو د ټولو نه لوئې تنظيم دے، تاسو پۀ حقيقي معنو کښې د دعوتِ اِسلامي والا اوسئ او د دې د طريقې مطابق د دِين خدمت کوئ، که ستاسو سره د دعوتِ اِسلامي د دِيني کارونو څۀ ذمه داري نۀ وي يا تاسو له بيان کول نۀ درځي يا تاسو عمامه شريف نۀ پۀ سر کوئ يا زلفې نشئ پريښودے نو هيڅ خبره نۀ ده، بس تاسو پۀ خپل کور کښې د فيضانِ سُنَّت نه درس ورکول شروع کړئ اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِيم! د دې برکتونه به تاسو پخپله ووينئ- د ترغيب پۀ توګه پۀ دې لړ کښې يو مدني سپرلے وړاندې کوو،

## د کور دَرس برکت

د آګوله (مها راشټر، هندوستان) د يو اِسلامي ورور کورنئ د خرابو خلقو سره د تعلقاتو پۀ وجه د بد عملئ سره سره د بدې عقيدې طرفته هم روانه شوې وه، يوه ورځ د هغوئي د ټولې کورنئ خلق د T.V پۀ کتو کښې مشغول وو چې د هغوئي 17 کلن کشر ورور کوم چې به د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو اجتماع ته تللو راتللو، د T.V طرف ته شا کړه او پۀ شا شا پۀ تللو کمرې ته داخل شو او خپل څۀ څيز يـې د الماړئ نه راواخستو او هم پۀ هغه انداز کښې واپس شو- د هغۀ پۀ دې نا اشنا حرکت ليدلو هغوئي پۀ غصه کښې ووئيل: آيا ستا دماغ خراب شوي دي چې نن د ماشومانو پۀ شان دا حرکتونه کوې! هغه د جوابي کاروايئ کولو نه بغير بلې کمرې ته لاړو- د

هغوئي مور بي بي ورته ووئيل چې هغهٔ ما ته وئيلي وو چې زهٔ به بيا د پاره د T.V طرف ته هډو ګورم هم نهٔ! هغوئي د غصې پهٔ وجه د کشر ورور سره خبرې بندې کړې-

هغهٔ پهٔ کور کښې ټول راجمع کړل او د فيضانِ سُنَّت دَرس يې شروع کړو- دے به پهٔ هغې کښې نهٔ کيناستو، يوه ورځ ورنزدې شو او کيناستو چې واوري چې پهٔ دَرس کښې څهٔ وائي، چې وا يې وريدو نو ډير ښه پرې ولیږو، لهذا روزانه پهٔ کور دَرس کښې يې شرکت شروع کړو- پهٔ ورو ورو د هغهٔ د زړهٔ تور والے لرې شو، د دې پورې چې د دعوت اِسلامي پهٔ هفته وارو د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې يې شرکت شروع کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! عقل يې ځائے له راغلو، د بد مذهبو د صحبت نه ورته نجات حاصل شو او پهٔ مخ باندې يې ږيره پريښودله او د خرابې عقيدې د تقريرونو کيسټې کومې به چې هغهٔ اوريدلې، بيا يې د هغې پهٔ ځائے د مکتبة المدينه د طرف نه جاري کيدونکي د سُنتو ډک بيانونه اوريدل شروع کړل-

بُری صحبتوں سے کنارہ کشی کر
اور اچھوں کے پاس آکے پا دینی ماحول
تمہیں لُطف آجائے گا زندگی کا
قریب آکے دیکھو ذرا دینی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص 646)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که تاسو د دعوتِ اِسلامي نور کارونه نهٔ کوئ نو کم از کم روزانه پهٔ خپل کور کښې د فيضانِ سُنَّت د بابونو "پیٹ کا قُفلِ مدینہ، فیضانِ بسمِ اللہ، فیضانِ رمضان، غیبت کی تباہ کاریاں، نیکی کی دعوت "

وغیره نه درس ورکول شروع کړئ، که تاسو له لوستل نهٔ درځي نو هیڅ خبره نهٔ ده پهٔ خپلو ورونړو خوئیندو یا مور پلار یا د کور پهٔ بَل یو کَس باندې درس ورکړئ- دا هم پهٔ ذِهن کښې یاد ساتئ چې درس د ډیر وخت پورې ورکول ضروري نهٔ دي بلکې صرف د " بِسمِ اللّٰه" د 7 حرفونو پهٔ نسبت سره 7 منټه کافي دي- که د سحر د نـمونځ نه پس ټول کور والا راجمع شي نو هٰغه وخت ګنې د غرمې د ډوډۍ خوړلو یا د چائے څښلو نه پس د کور ټول خلق راجمع کوئ او درس ورکوئ، که ټول خلق د درس اوریدو د پاره نهٔ کښیني نو هیڅ خبره نهٔ ده د کور یو کَس ته یـې بیان کړئ-

وګورئ! که چرې تاسو سنجیده وۍ نو د کور د یو کَس به پهٔ تاسو باندې ضرور رحم راشي او هغه به ستاسو د درس اوریدو د پاره کښیني، او که تاسو پهٔ کړس کړس خاندۍ یا درس اوریدونکي رټۍ او ستغې سپورې ورته وایۍ نو بیا مشکله ده که څوک ستاسو د درس اوریدو د پاره تیار شي بلکې پهٔ داسې حالت کښې تاسو ګنهګاریدے هم شۍ-

یاد ساتئ چې ستاسو درس اوریدل پهٔ کور والؤ باندې فرض او واجب نهٔ دي ځکه د چا د زړهٔ د ازارولو نه بغیر بالکل پهٔ سنجیده انداز کښې درس ورکوئ اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې پهٔ برکت به د کور والؤ زړونه نرم شي، خاص طور مور به پخپله هم درس اوري او د کور نور خلق به هم راجمع کوي

ځکه چې هغه د ټول کور مالِکه وي نو داسې به ستاسو درس پهٔ صحيح طريقه جاري شي۔

پهٔ " نيک اعمال " رساله کښې هم د کور درس ترغيب ورکړے شوے دے خو د دې باوجود اِسلامي ورونړه پهٔ دې باره کښې د ناراستئ ښکار کيږي۔ کوم اِسلامي ورونړه چې پهٔ کور دَرس کښې د سستئ نه کار اخلي هغوئي ته عام طور د کور والؤ د طرف نه پهٔ قافلو کښې د سفر کولو اجازت هم نهٔ ميلاؤيږي۔ که تاسو کور درس شروع کړئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! کور والا به ستاسو نه مطمئين شي او ستاسو د پاره به پهٔ قافلو کښې د سفر کولو لارې پرانستے شي۔

## د عطار دُعا

اے الله! کوم اِسلامي ورونړه يا اِسلامي خوئيندې چې کور درس ورکوي هغوئي ټولو او ما ته پهٔ جَنَّت الفردوس کښې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ راعطا کړې۔ د قيامته پورې چې څوک د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راځي او کور درس ورکوي د هغوئي پهٔ حق کښې هم زما دا دُعا قبوله کړې۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د کور درس شروع کولو دا مطلب نهٔ دے چې تاسو د دعوتِ اِسلامي نور کارونه پريږدئ بلکې هغه هم جاري

وساتئ ځکه چې د هر دِيني کار اهميت پهٔ خپل ځائے باندې دے- وګورئ چې که تاسو پهٔ قافلو کښې سفر کوئ نو د دې سره به پهٔ تاسو کښې د کور درس جذبه زياتيږي، که تاسو "نيک اعمال" رساله ډکوۍ نو پهٔ تاسو کښې به تقوىٰ راپيدا کيږي، که تاسو د نيکۍ د دعوت د پاره پهٔ علاقائي دوره کښې شرکت کوۍ يا جومات درس يا چوک درس ورکوۍ نو د دې پهٔ برکت به ستاسو پهٔ علاقه کښې د نيکۍ دعوت عام کيږي ځکه د کور درس سره سره د دعوتِ اِسلامي نور دِيني کارونه هم جاري ساتئ او هغه زياتوئ-

## د مور او پلار ادب کوئ

د کور درس او د دعوتِ اِسلامي د نورو دِيني کارونو د کولو سره سره د مور او پلار ښه پوره ادب کوئ، د هغوئي لاسونه او ښپې ښکلوئ، خاص طور د مور ښپې ښکلوئ چې پهٔ يو روايت کښې دي: چا چې د خپلې مور ښپه ښکل کړه نو داسې ده لکه چې هغهٔ د جَنَّت چوکاټ ښکل کړو- (درمختار، 606/9)

د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د مور او پلار ستاسو سره محبت نور هم زياتيږي، پهٔ هغوئي کښې به د اطمينان حالت پيدا کيږي او د هغوئي به دا ذِهن جوړيږي چې زمونږ ځوي د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې ښه ځائے ته روان دے ځکه چې مخکښې خو به هغه مونږ له رټ جواب راکولو او پهٔ سمه خُله به يــې راسره خبرې هم نهٔ کولې خو اوس مَاشَآءَ الله!

ښکته سترګې، په سلام کولو کور ته راځي او زمونږ لاسونه او ښپې هم ښکلوي- وګورئ چې کله مور او پلار ستاسو نه مطمئين وي نو ېخپله به درته وائي چې ځويه! په قافلو کښې سفر کوه، ځويه! کور درس لږ نور زيات کړه او روزانه بغير د قضا کولو درس راکوه او مونږ ته د الله پاک او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلې خبرې بيانوه وغيره-

## د ډېر عمر موندلو خواهش

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د بيان په شروع کښې د حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام په دربار کښې د حاضريدونکي د وادۀ د ځلمي واقعه واوريدله چې د زکوٰة ورکولو په برکت د هغۀ عمر د 6 ورځو نه زيات کړے شو او 60 کاله کړے شو او په هغې کښې 10 کلونه نور هم زيات کړے شول- نن سبا هم ډېر خلق د ډېر عمر موندلو ارمان کوي او دې د پاره ښه ډېر اِحتياطونه هم کوي- داسې ښکاري چې د مرګ د پاره څوک هډو تيار نۀ دي د دې پورې چې د 100 کالو بوډا هم د نور ژوند خواهش لري- ډېر بوډاګان د بخښنې د دُعا کولو په ځائے د تنګدستۍ د ختميدو او په رزق کښې د برکت دعاګانې کوي، دغه شان مالداره خلق هم په رزق کښې د برکت د پاره دعاګانې کوي حالانکې الله پاک هغوئي ته ښۀ ډېر مال او دولت ورکړے وي خو په داسې قِسمه دُعاګانو کولو په نظر راځي چې " زمونږ فلانکې منصوبه پوره شي، مونږه فلانکې ودانې شروع کړې ده چې هغه مکمله شي، زمونږ د کور کار

ولاړ دے چې هغه وشي وغيره وغيره-“ داسې خلقو له سوچ کول پکار دي چې کورونه به ورانيږي او جوړيږي خو کور والا به قبر ته کوزيږي لهذا د جَنَّت د محلونو لټون پکار دے-

وګورئ چې په دُنيا کښې د سر د پټولو ځائے اخر ميلاؤيږي خو که زمونږ سره د کرايه کور وي نو زمونږ خواهش او دُعا وي چې مونږ ته مالکانه حقونه ميلاؤ شي، که وړوکے کور وي نو مونږ د غټ کور ارمان او خواهش لرو نو داسې مونږ د دُنيا د پلاټونو او کورونو د پاره سر وهلي بر وهلي ګرځو او په خلقو باندې ځان ته دعاګانې کوو- اے کاش چې د جَنَّت د عالي شان محلونو طرف ته هم زمونږ پام شي، اے کاش چې زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله زمونږ د جَنَّت څۀ حصه نصيب شي-

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے

پھول رحمت کے جَھڑیں گے ہم اُٹھاتے جائیں گے

## د نزدې خپلوانو سره د ښه سلوک برکت

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د زياتو نيکو په نيت سره د ډېر عمر په ارمان کولو کښې هيڅ باک نشته، د ډېر عمر موندلو يوه نُسخه دا هم ده چې د نزدې خپلوانو سره ښه سلوک اوکړے شي، په حديثِ پاک کښې

دي: د نزدې خپلوانو سره ښه سلوک، مال زياتوونکے، پۀ خپل مينځ کښې محبت کوونکے او عمر زياتوونکے دے۔

(معجم اوسط، 11/6، حديث:7810)

د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې د خپلوانو سره د ښه سلوک کولو سره پۀ رزق کښې برکت راځي، پۀ خپل مينځ کښې محبت قائم پاتې کيږي او عمر زياتيږي لهذا که تاسو د چا خپل سره رشته پريښودې وي نو بيا يې بحال کړئ۔

د بده مرغه نن سبا پۀ يو ټک کښې د نزدې خپلولۍ ماتيږي! که ستاسو د مور او د ترور ترمينځه جګړه روانه وي نو د دې دا مطلب نۀ دے چې تاسو هم د خپلې ترور سره جګړه شروع کړئ، د هغوئي غيبتونه کوئ، د هغوئي خراب نومونه کيږدئ بلکې تاسو د خپلې ترور سره خپلولي قائمه ساتئ او که د دې خبرې ويره وي چې مور بې بې ته پته ولګي نو د کور ماحول به خراب شي نو د مور نه ورسره پۀ پټه تعلق ساتئ۔ وګورئ چې ستاسو مور او ترور پۀ خپل مينځ کښې خوئيندې دي، که الله پاک وغواړي نو د دواړو روغه به وشي خو ستاسو دا حق نۀ دے چې ترور ته ردې بدې شروع کړئ۔ ياد ساتئ چې ترور د وينې رشته داره او پۀ محارمو کښې ده۔ دغه شان که ستاسو د مور د نيا پۀ خپل مينځ کښې نۀ لګي نو تاسو د نيا سره هيڅکله هم تعلقات مۀ ختموئ۔ دغه شان که د طلاق پۀ وجه د مور او پلار پۀ مينځ کښې جدائي راشي او مور اولاد ته ووائي چې د

خپل پلار خوا له د ملاقات د پاره مهٔ ځه نو بیا به هم اولاد د ملاقات د پاره ځي- اګر چې د طلاق نه پس ښځه د خپل خاؤند د زوجیت نه ووځي خو د اولاد د خپل پلار سره رشته قائمه وي، هم دا وجه ده چې د مور او پلار د طلاق کیدو نه پس که چرې پلار د دُنیا نه رُخصت شي نو بیا هم اولاد ته د هغهٔ پهٔ میراث کښې برخه میلاؤیږي-

معلومه شوه چې د مور او پلار پهٔ مینځ کښې د طلاق کیدو نه پس هم د پلار حقونه پهٔ خپل اولاد باندې باقي پاتې وي، پهٔ داسې حالاتو کښې که چرې مور اولاد ته ډیر ووائي چې د خپل پلار سره رشته پریږده نو بیا به هم پهٔ اولاد باندي د خپل پلار سره ښه سلوک کول لازم دي، که د مور پهٔ وئیلو باندې اولاد د خپل پلار سره تګ راتګ پریږدي او د هغهٔ نه لرې والے اختیار کړي او هغهٔ ته تکلیف رسوي نو داسې کول به د پلار سره ظلم وي او اولاد به ګنهګاریږي- د اولاد د خپل پلار سره د میلاؤیدو پهٔ وجه که چرې مور خفه شي او هغې ته تکلیف رسیږي نو دې ته به د اولاد د طرف نه خپلې مور ته تکلیف رَسَوَل نهٔ وئیلے کیږي بلکې د مور به خپل ځان ته پخپله تکلیف وئیلے کیږي- یاد ساتئ چې مور او پلار چې پهٔ شریعت کښې دننه اولاد ته څهٔ حکم هم اوکړي اولاد دې هغه مني او پهٔ هغې باندې دې عمل کوي او که د شریعت خلاف حکم اوکړي نو اولاد دې یې نهٔ مني-

## پۀ صُلح کولو کښې وړومبے والے کوئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! که چرې تاسو خُدائے دې نۀ کړي د شرعي اجازت نه بغير د خپل مور او پلار، ځوي لور، خور ورور، د ترور او د ترور د خاؤند، د ماما، د پلار د طرف نه د نيا، د مور د طرف نه د نيا، د ځوي د طرف نه د نمسا نمسو، د لور د طرف نه د نمسا نمسو يا د نورو خپلوانو سره تعلق پرېښودے وي نو پۀ صُلح کولو کښې وړومبے والے اوکړئ- که د څۀ دِيني عُذر پۀ وجه مو رشته پرېښودې وي مثلاً پلار کافر دے نو پۀ دې باره کښې د علمائے کرامو سره مشوره اوکړئ- ياد ساتئ چې د کافر پلار سره به هم پۀ شريعت کښې دننه ښه سلوک کول وي او د هغۀ حکم به منل وي البته پۀ کومو معاملو کښې چې شريعت د حکم منلو نه منع کړې وي نو پۀ هغې کښې دې د هغۀ حکم نۀ منلے کيږي مثلاً که پلار د کافر کيدو سره سره ړوند هم دے او اولاد ته وائي چې ما ګرجې ته بوځه نو بيا به د هغۀ خبره نۀ منلے کيږي او که وائي چې د ګرجې نه مې واپس خپل کور ته بوځه نو بيا به يې خبره منلے کيږي-

(تفسير روح البيان، پ20، العنکبوت، تحت الآية:8، 6/450 ملخصاً)

د کومو خلقو مور او پلار چې مَعَاذَالله! کافران دي نو هغوئي ته د علمائے کرامو نه پوښتنه کول پکار دي چې د کافرانو مور او پلار سره څنګه سلوک کول دي؟ د دې سره سره پۀ قافلو کښې هم سفر کول پکار دي چې د دې پۀ برکت د عِلمِ دِين د زده کولو جذبه نصيب کيږي او د دِيني

کتابونو د لوستلو او د علمائے کرامو سره د رابطې کولو ذِهن جوړېږي- یاد ساتئ! داسي نۀ ده چې تاسو ټول اِسلام صرف هم د دریو ورځو پۀ قافله کښې زده کړئ البته د څۀ نا څۀ عِلمِ دِین زده کولو موقع به ضرور نصیب کیږي او د دِیني کتابونو د لوستلو شوق به زیاتیږي-

## د صله رحمی برکت

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د خپلوانو سره د ښه سلوک هم څومره ښکلے شان دے! پۀ حدیثِ پاک کښې دي: بے شکه پۀ ټولو نیکو کښې پۀ زر ثواب کښې صله رحمي ده د دې پورې چې کور والا فاسقان هم وي نو د هغوئي مالونه زیاتیږي او د هغوئي شمیره زیاتیږي او پۀ خپل مینځ کښې صله رحمي کوئ- (معجم اوسط، 306/1، حدیث:1092)

فرض کړئ! که چرې مَعَاذَالله! مور او پلار یا خور او ورور یا بال بچ بے نـمانځه وي یا فلمونه ډرامې ګوري یا پرده نۀ کوي یا سندرې سازونه اوري یا ږیرې خریوي یعنې فاسقان وي نو بیا به هم د هغوئي سره ښه سلوک کول وي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! که یو خوا پۀ دُنیا کښې د صله رحمی ښه میوه میلاؤیږي لکه عمر زیاتیدل، پۀ مال کښې برکت راتلل وغیره نو بل خوا پۀ اخرت کښې به هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډېر ثواب لاس ته راځي-

## د صله رحمۍ سره محتاجي لرې کيږي

د صله رحمۍ پهٔ برکتونو کښې يو برکت دا هم دے چې د دې سره محتاجي لرې کيږي لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې دي: هيڅ کور والا داسې نشته کوم چې پهٔ خپل مينځ کښې صله رحمي کوي او بيا محتاجه شي-

(ابن حبّان، 333/1، حديث:441)

د څو پورې چې د کور والؤ پهٔ خپل مينځ کښې محبت وي نو تنګدستي به دوئي ته نهٔ رانزدې کيږي- نن سبا هر يو د بے روزګارۍ او د تنګدستۍ شکايتونه کوي خو دې ته نهٔ ګوري چې پهٔ کور والؤ کښې محبت نشته، پهٔ خپل مينځ کښې جنګ جګړې او تربګنۍ دي، پهٔ مخه د مور او پلار ترمينځه جګړې کيږي، د ورونړو او خوئيندو د يو بل سره نهٔ لګي وغيره وغيره- چې داسې وي نو محتاجي به څنګه ختميږي؟ مصيبت دا دے چې که کاروبار ودريږي نو عام طور خلق هم دا ګڼي چې چا پرې جادو کړے دے او بيا د عامِلانو خو له ځي نو عاملان ورته فوراً وائي چې کوډې جادو پرې شوے دے- دغه شان که چرې پهٔ کور کښې جنګ جګړې وي يا ماشوم ناروغه شي نو ګمان کولے شي چې چا نزدې خپل پرې جادو کړے دے بلکې بعضې بے وقوفه خو د دې پورې وائي چې زما پلار پهٔ ما باندې جادو کړے دے او بعضې وخت پلار وائي چې ځوي پهٔ ما باندې جادو

کړے دے۔ ياد ساتئ چې ټول خلق جادوګر نۀ وي، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! پۀ معاشره کښې د الله پاک نه ويريدونکي خلق هم موجود دي۔

## شيطان به کور ته نۀ راځي

وګورئ چې صرف جادو د پريشانو وجه نۀ وي بلکې زمونږ د بے خيالو پۀ وجه هم پريشانئ او سختې راځي مثلاً پۀ حديثِ پاک کښې دي: کله چې تاسو خپل کور ته داخِل شئ نو کور والؤ ته سلام کوئ بے شکه چې کله پۀ تاسو کښې څوک کور ته د داخليدو پۀ وخت سلام کوي نو شيطان هغه کور ته نۀ داخليږي۔ (مستدرک، 166/3، حديث: 3567 مفهومًا) لهذا بِسمِ الله لولئ او کور والؤ ته سلام کوئ او کور ته داخليږئ د پاره د دې چې شيطان ورته داخِل نۀ شي۔ دغه شان پۀ ګنده ځايونو او د اِستنجا پۀ ځايونو کښې هم سرکشه پيريان اوسيږي نو د هغوئي نه د بچ کيدو د پاره مونږ ته دا دُعا راښودلے شوې ده: "بِسۡمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَعُوۡذُبِكَ مِنَ الۡخُبُثِ وَ الۡخَبَائِثِ يعنې د الله پۀ نوم سره، اے الله! زۀ د ناپاکئ او د شيطانانو نه ستا پناه غواړم۔" (مصنف ابن ابی شيبه، 148/7، حديث:5) لهذا د اِستنجا ځائے (يعنې واش روم) ته د تللو نه مخکښې دا دُعا لولئ اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيم! د سرکشه پيريانو نه به مو حفاظت کيږي۔

نن سبا خلقو قِسما قِسم شعرونه او پوره پوره مضمونونه رَټَه کړي وي، چا M.B.A کړې وي نو چا M.B.B.S، څوک وکيل وي نو څوک څۀ بل څۀ، خو افسوس چې ډيرو خلقو ته واش روم ته د تللو دُعا هم ياده نۀ وي، که چا

ته ياده هم وي نو پهٔ صحيح طريقه ورته ياده نهٔ وي او د صحيح کولو د پاره يـې چا عالِم يا قاري صاحب ته د اوړولو توفيق هم نهٔ نصيب کيږي۔

که تاسو واش روم ته د تللو پهٔ وخت دا دُعا نهٔ لولئ نو دننه موجود پيريان تاسو پريشانه کولے شي او بيا به تاسو د علاج د پاره پهٔ عامِلانو پسې ګرځئ او بعضې وخت عاملانو ته هم پته نهٔ لګي چې دا پيرے د کوم ځائے انښتے دے؟ که تاسو دُعا لولئ او واش روم ته ځئ نو د پيريانو نه به حفاظت کښې کيږي بلکې پيريان به ستاسو ستر هم نشي ليدلے ځکه چې د دُعا پهٔ شروع کښې د " بِسمِ اللّٰه " الفاظ دي او پهٔ حديثونو مبارکو کښې داسې مضمونونه موجود دي چې که " پهٔ بِسمِ اللّٰه وئيلو سره ستر پرانستے شي نو سرکشه پيريان ستر نشي ليدلے۔"

(ترمذی، 113/2، حدیث:606 ملخصاً)

## خود ګرده را علاجے نيست

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** که څوک بغير د دُعا د لوستلو نه واش روم ته لاړ شي او غواړي چې د سرکشه پيريانو د شر نه هُم محفوظ پاتې شي نو دا متل دے: " خود کرده را علاجے نيست يعنې پهٔ خپل لاس د مصيبت اغوستونکو هيڅ عِلاج نشته۔" پهٔ دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چې که څوک پهٔ تيزه خپل سر ديوال ته راچوي او دا هم غواړي چې سر يـې مات نهٔ شي نو داسې نشي کيدے بلکې ديوال ته د سر راچولو سره به سر

ماتیږي او ټکونه به ترې هم ویستے شي او که چرې سر پۀ تیزه دیوال ته راچوي نو دماغ به یــې هم راوځي او مړ کیږي به هم۔

## هيڅ يو مرض لاعلاج نشته

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! بے شکه چې اللّٰه پاک وغواړي نو تعویذونه او عملونه اثر کوي کنې نۀ یــې کوي۔ داسې پۀ دوایۍ کښې هم ېخپله څۀ اثر نۀ وي چې اللّٰه پاک وغواړي نو شِفا نصیب کیږي کنې نۀ میلاؤیږي۔ نن سبا ډاکټران صاحبان پۀ علاج کولو مریض ځائے ته ورسوي او بیا پۀ اخره کښې وائي چې د دې مرض هیڅ عِلاج نشته حالانکې پۀ حدیثونو مبارکو کښې داسې مضمونونه موجود دي چې " اللّٰه پاک داسې هیڅ بیماري نۀ ده نازله کړې د کومې سره چې یــې د هغې علاج نۀ وي نازل کړے۔"

(بخاری، 16/4، حدیث:5678)

لکه څنګه چې بعضې ډاکټران دا وائي چې د فلانکي مرض هیڅ علاج نشته دغه شان چې بعضې خلقو ته کله د دِین خبره اوکړے شي نو وائي: " صیبه! داسې خو پۀ یو حدیث کښې نشته۔" د داسې خلقو د پاره عرض دے چې آیا ټول حدیثونه د هغوئي د نظر نه تیر شوي دي؟ یقیناً چې نا، لهذا هغوئي ته داسې وئیل پکار دي چې داسې هیڅ حدیث زمونږ د نظر نه نۀ دے تیر شوے۔ دغه شان ډاکټرانو ته هم دا وئیل پکار دي چې " زمونږ سره د فلانکي مرض عِلاج نشته یا د اوسه پورې ډاکټرانو ته د

فلانکي مرض علاج نۀ دے میلاؤ شوے " داسې هیڅکله هم مۀ وایئ چې د فلانکي مرض علاج نشته-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له د خپلو خپلوانو سره صله رحمي او ښه سلوک کول پکار دي د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! زمونږه ډېرې فائدې نصیب شي- د ترغیب د پاره یو څو حدیثونه مبارک وړاندې کولے شي-

## صله رحمي

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: صله رحمي، ښه اخلاق او د ګاؤنډیانو سره ښه سلوک ښارونه ابادوي او عمرونه زیاتوي- (مسند امام احمد، 504/9، حدیث:25314)

## د خراب مرګ او د افتونو نه نجات

سرورِ ذِیشان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د ښه سلوک کارونه د خرابو مرګونو، افتونو او هلاکیدو نه بچ کول کوي او پۀ دُنیا کښې به اِحسان کوونکي پۀ اخرت کښې هم اِحسان کوونکي وي-
(جامع الاحادیث، 86/6، حدیث:13564)

## د ټولو نه وړومبے جَنَّت ته تلونکے

د مدینے منورې تاجدار، د دواړو جهانو مختار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د

نیکۍ کارونه د خراب مرګونو نه بچ کول کوي، پټ خیرات د رَبّ غضب سړوي، د خپلوانو سره ښه سلوک پهٔ عمر کښې د برکت (ذریعه) ده، هر یو ښه سلوک صدقه ده، څوک چې پهٔ دُنیا کښې د اِحسان والا دي هغوئي به پهٔ اخرت کښې اِحسان مومي، څوک چې پهٔ دُنیا کښې د بدۍ والا دي هغوئي به پهٔ اخرت کښې بدي ویني او د ټولو نه وړومبے چې به څوک جَنَّت ته ځي هغه ښه سلوک کوونکي دي-

(معجم اوسط، 311/4، حدیث:6086)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! د صله رحمۍ، د ښو اخلاقو او د ګاؤنډیانو سره د ښه سلوک کولو ذِهن به مو جوړیږي-

## درې روحاني علاجونه

(1): "یَا وَارِثُ" څوک چې د دې ورد کوي اِنْ شَآءَ اللّٰہ الْکَرِیْم! د هغه عمر به زيات وي. (مدني پنج سوره، ص 297)

(2): "یَا قُدُّوْسُ" څوک چې د سفر په وخت د دې ورد کوي اِنْ شَآءَ اللّٰہ الْکَرِیْم! د ستړي والي نه به محفوظ وي.
(40 روحاني علاج مع طبي علاج، ص 3)

(3): "یَا مُهَیْمِنُ" څوک غم ځپلے چې 29 کرته روزانه دا لولي اِنْ شَآءَ اللّٰہ الْکَرِیْم! د هغه غم به لرې شي، د دې سره سره به اِنْ شَآءَ اللّٰہ الْکَرِیْم! د افتونو او بلاګانو نه هم محفوظ وي. (40 روحاني علاج مع طبي علاج، ص 3)


فيضانِ مدينه محله سوداګران، زوړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net